مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: شهید محمد موسی شفیق
رالیږونکی: فضل الرحمن فاضل

۲۰۲۲/۰۱/۲۷

# عبقریان
# او
# نورې قصې




(1)

د ملک کلی د هغی لویی لارې په سر پروت دې کومه چه پایتخت په لویدیځو ولایتو پورې تړی ـ همدغه لاره ده چه د لمر ختیځي خوانه د غرونو هیواد ته خپل او پردی، کورنی او پردیس راننباسی او ورنه و باسی یی، په همدی لاره ما کلونه کلونه پخوا د خپل پلارسره یو ځای سفر کړی او دا سفر به تل د هغه موجود په شاکیدو په کوم به چه هر څه د بنیادمو نه نیولی آن تر تیرو وسپنو، غلو، ښاروو او مرغانو پوری بار وو او لارئ به یی ورته ویله. د ملک صاحب کلی په یو خوړ کی پروت دی او چه دلارې دوه سره پایتخت او دلمر ختیځ ولایت لوی ښار ونیسو نو دا ځای به یی لویدیځی خواته ځیرمه پروت وی. د لاری لمر خوا ته برخه هم هماغومره سړه او هیبتناکه او دخطر نه ډکه ده لکه د مغرب خوایی. په کوزنئ برخه کی یی د لیوانو، د ییږو، د غلو او داړه مارو او د سیلابونو خطر زیات دی مګر په برنئ خواکښی یو هیبت ناک ګړنګ پروت دی چه یوازی په یوازی ددی ټولو خطرو سره مساوی دی ډریور چه په دغه ګړنګ را برابر شی نو په روغه تیریدل، ختل او کوزیدل ورنه معجزه ګڼی. په لارئ کښی سواره کسان چه د ګرنګ حد له را ورسیږی نو هر څومره سورتونه او دعاګان یی چه زده وی هغه ټولی ختمی کړی، شش کلمی درستی کړی او ځان په مړوو شماری، د لوی څوان نذر ومنی او آخرت یی سترګوته ودریږی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په دی خپه شی چه ولی یی وصیت نه دی کړی، ولی یی حج نه دی کړی، ولی یی لمونځ قضاء کړی، ولی یی هغه میا صاحب او هغه پاچا صاحب د ځان نه خپه کړی دی؟ زما پخپله یادیږی چه کله به لاریَ دی ګرنګ ته نژدی کیده نو ما به تباشیر د جیب نه راوویست او د لاریَ په وسپنو اولرګو به می په څو څو واره ولیکل: یاالله خیر، خدا حافظ یا غوث الاعظم دستګیر، ماته دا وویل شوی وو چه سړی دا عبارت په کومه لاریَ ولیکی نو هغه لاریَ نه اوړی، ربښتیا ربښتیا او دروغ دروغ چه زمونږ لاریَ تل د ګړنګ نه سلامتی تیریدلی.

(2)

دوولس کاله پخوا د دغه کلی هوښیار او پوخ ملک صاحب چه هم یی د زمانی ډیرې سړې تودې لیدلی وې او هم د خدای په لاره سم و یوه ورځ سهار په جومات کښی خپلو کلیوالوته وویل:
هلکو! سږ کال چه دا خوړ زمونږ او ستاسی کلی ته تنبه شوی و او ورنه چپ شو دا بی څه نه دی، داسی معلومیږی لکه چه په همدغه شاوخواکی د کلی د خوړ پلو دیوال ته نژدی کوم شهید پروت دی هرچا چه کومه نښه ولیده ماته دی ووایی!، دوه دری ورځی چه تیری شوی یو ببر سړی غوندی سړی ملک صاحب ته راغی او د شهید د نښی د پیداکیدو زیری یی ورکړ. بله ورځ د ببر سری سړی سر نور هم پسی ببرشو، څښی یی اوږدې شوې، د سر ویښتان یی کړیَ کړیَ شول، یو کچکول یی غاړی ته واچاوه او د کلی د خوړ پلو دیواله ته نژدی یو لوړ شان قبرته دیره شو. د قبر د پاسه یی یوه سرجنډه لکه کړه او ځان یی د شهید ملنګ کړ. قبر چه زیارت شو اوټول عناصر یی پوره شول نو د کلی خلک به یی جوپی جوپی زیارت ته راتتلی او دعا به یی ورته کوله. کل ته چه بیا د خوړ د مستیَ شپی راغلی او کلی ته څیرمه شو خلک وارخطا شول او نوریی په تشه دعا ډاډګیر نه نه کیده، دهر چا چه هر څه په وسه کښی وو هغه به یی زیارت ته راځغلول او همدا سوالونه به یی کول شهیده! دی خوړته دی زور وښیه خوړ بیا د شهید د قبرسره ودرید او په کلی راونه خوت دی حادثی نه یوازی د کلی د خلکو او دزیارت په رابطه تآثیر وکړ بلکه د ملنګ او دشهید په علایقو کښی یی هم یوه تازګی پیدا کړه. ملنګ توب په مجاورتوب بدل شول. که پخوا به شهید د ملنګ روح له قوت ورکاوه اوس یی ملاهم تړی او جیب یی هم ډکوی. د لویو کسانو په خوا پورې چه سړی پریوزی بی څه خویی نه پریږدی. د خوړ د مستیَ د شپو نه برسیره به هم کلیوال زیارت له تلل راتلل. هلکانو به ښځی غوښتی، نجونو به میړونه، میړوښو به زانګو اچولی او اولاد به یی غوښته، ښو به نذرونه منل چه ګرانی شی، د چا به چه سره مخه وه هغوی به د زیارت خاورې په ځان پوری مښلی چه ښه شی مرادونه به چه ترسره شول نو په زیارت کښی به نذر پخیده او خلک به پرې را ټولیدل. د دی ټول واقعاتو نګرانی به ببرسرې ملنګ (مجاور) کوله همدا راشه درشه هغه مجبور کړ چه د زیارت سره یو کوټه هم جوړه کړی او هلته د (مراجعینو) او (مشتریانو) د استقبال څه تیاری هم ونیسی. د ملک صاحب بیبیانی او هغه به په خپله هم د شهید زیارت له همیشه تلوراتلو. ملک صاحب به تل په دی خبره د ځان سره ډیر خوشالیده چه د شهید قبر د ده د هڅی او باعثتیا په اثر پیدا شو او دی خبری به ورته لا ډیر مزه ورکوله چه د شهید قبر د ده په مځکه کښی پیدا شو.

(3)

څومره چه د شهید آوازه خپریده او د زیارت ډلو ټکورییی زیاتیده په هماغه اندازی یی جنډې هم لوړیدلی. د لارې په سر به چه لاریَ تیریدلی اوس به د هغو سورلیو هم د زیارت سرې جنډی د ورایه لیدلی. کله کله به چه لاریَ د ملک صاحب د کلی خواته د اوبو یا د دمی د پاره ودریدې نو هغو سورلیو به زیارت ته د ورایه دعا کوله کومو به چه په لاریَ کښی پخوا هم سفر کړی و اوسترګی یی پخی شوی وې، مګر نوکي سواره به تل په منډومنډو د شهید زیارت له پخپله ورتلل او د خیر سفر به یی ورنه غوښتلو. د ګړنګ ویرې به تل په دې دعاګانو کښی یو خاص تاثیر لاره. طبیعی ده چه سورلیو به د نذارانی په ورکړه کښی د هر چانه زیاته میرانه ښودله.
د ملنګ عایدات ورځ په ورځ زیاتیدل د هغه په کړه وړه کی کوم بدلون را نه غی، مګر شتمنی یی هم پټه پاتی نه شوه. ګرویَ یی واچولی، واده یی وکړ او ما او تا سره یی پټ پټ قرضونه هم وکړل. ملک صاحب خوزیارت ته پوره عقیده لرله مګر د ملنګ دومره ترقیَ ورله مزه ورنه کړه. د یوې خوانه د ده خپل اقتصادی حال چندانی ښه نه و دبلی خوانه دا خبره هم باید په یاد ولرو چه د ده ملکی د خلکو په احتیاج ولاړه وه نو د دغه احتیاج دفع کول د ده نفوذ ته صدمه رسول و، برسیره پردې د زیارت جم وجوش د ده حجره او دیره هم ماته کړې وه.
هر څومره چورتونه به یی چه ځان سره وهل د دغه کار تدبیریی نه شو جوړولی او دا په شار اوړی بلایی نه شوه ورکولی. شپی او ورځي جومی او میاشتی ملک صاحب په همدغه فکر بوخت و او د خپلو تجربو په دریاب کښی یی د دې معمی په حل پسی غوټی وهلی.

(4)

د ملک صاحب د کلی نه یو څو میله لرې په لمر خاته خواته ځوړی کښی یوې درنی لاریَ تیل خلاص کړل. په هغو سړو شپو کښی چه د لاریو شمیر هم کم و د ماښام تر تیارو پوری هیڅ موټر پیښه ونه کړه. د شپی د پاره سورلیو یوې کوټنیَ ته ځان ورساوه او هلته پریوتل. سهار چه را پاڅیدل یواری دغاړی جامی یی په ځان وی او نور تری هر څه غلووړی وو. خبره طبعاً حکومت ته لاړه او د هغه ځای نه سپاهیان او اوالدار د ملک صاحب کلی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریَ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ته راغلل او د ده په حجره کښې یې د تحقیقاتو ټغر وغوړاوه چه وهل او ټکول او نوری ټولې بې شرمۍ ورپسې را روانې وې.
اوالدار ملک صاحب ته وویل (غله راپیدا کوی او که مونږ پخپله ورپسې بدي ووهو؟)
ملک صاحب د سپاهیانو خرڅ ورکړ او وعده یې ورسره وکړه چه که په دری شپو کښې یې د سرولیو کالی پیدا نه کړل اوغل یې حکومت ته ونه ښود نو بیا د هغوی خوښه چه د ده د دهقانانو او اولس سره هر څه کوی. سپاهیان لاړل ملک صاحب د کلی خلک راټول کړل او ورته یې وویل هلکو! دا غلا به ضرور پیدا کوئ، غل په تاسی کښې دی. دلته خو د آسمان نه څوک راتلی نه شی هرڅه چه شوی خیر دی غلطی د هر چانه کیږی توبه وباسئ او ځان د حکومت د باز خواست او د آخرت د بدي ورځي نه بچ کړئ. زه به هم ستاسی په ګناه لمن وغوړوم هر چاچه مال اخیستی وی بیګاته دي یی د شهید په زیارت واچوی او ځان دی هم نه ښایی، زه به په خپله د سپاهیانو او د حکومت چاره وکړم. د ماښام تیاره چه ټینګه شوه خان صاحب خپل یو نوکر مکلف کړ چه د زیارت دغزونو کوم ډډ ته پټ شی او که چا څه راوړل او هلته یې واچول نو دی دي پري فوراً خبر کړی. شپه د نیمی نه اوښتی وه چه د تیارو دګیدی نه یو څوک راووت او یو دوه د اوړو پیټی یی په زیارت کښې ګوزاره کړل او خپله لاریې ونیوه. د ملک صاحب نو کر په منډه هغه خبر کړ او هغه د واره یوه رقعه حکومت ته ولیکله چه غل د مال سره پیدا شو سپاهیان د سهار په خړه کښې راورسیدل او ملک صاحب د ګوتونه ونیول او په مال یی ودرول او بیا یی د ملنګ د کوټنی په دروازه ورننویستل. د ملنګ متی هما غلته وتړل شوي او مخ په حکومت روان کړی شو.

(5)

ملک صاحب چي د ملنګ نه خاطر جمعه شو نو د زیارت اداری او تنظیم ته یي پام شو، د ده لومړنی اقدام دا ؤ چه زیارت یي «محاصره» کړ، فوراً یي خپل یو ببر ږیری نوکرته امر وکړ چي د زیارت یوه ننبه د لاریو د سړک په سر ودروي جنډه لګه کړي، د اوسپني پنجره او سره ټوټه ورپوري وتړي او یوه کوډۍ جوړه کړی او ډېري رنګینې ټوټي ورپوری غوټه کړي. دا کار چه تمام شو ملک صاحب خپل نوکر ته وویل: چه اوږدي جامي واغوندی، سر او پښي لوڅې کړي او په هغه کوډۍ کې دیره شي. هره یوه لاری چه راځي غږدي وربادی کوي چي «یا الله خیر... سفر بي خطر» د اصل زیارت لپاره هم ملک صاحب یوه چاره وسنجوله. د ده یو سرتمبه امام و چه هغه د لاریو سړک ته د زیارت د مرکز د نقلولو سره چه د ملک صاحب اصلي ارزو وه شدید مخالفت وکړ، د ملک صاحب او د هغه ترمنځ ډېري مباحثي وشوي چي تقریباً حاصل یي دا و:
ملک صاحب! دا زیارت که د لوی سړک په غاړه جوړ کړو ډېر خلک ورته رسیدی شي او برکت به یي هم مسافرو ته رسیږي او هم د کلي خلکو ته.
ملا صاحب: زیارت د چا په خوښه نه جوړیږي. دا شهید رحمة الله علیه همدلته پیدا شوی او همدلته وربادي قبر جوړ شوی دی.
- دلته خو ندی پیدا شوی خدای خبر چي په اصل کښي یي قبر چیرته و؟
- خیر خو مبارک هډوکي یي همدلته پیدا شوی دی او شرعی مسئله د ده چه د یوه قبر خوځول بی ضرورته جایز نه دی.
- دا هم یو ضرورت دی چه خلک ورته ښه رسیږي.
- نا داسی نه ده ضرورت په کتابونو کښي په خپله بیان شوی دی.
د نبي آخر زمان علیه الصلواة والسلام په شرع کښي هیڅ شی بی بیانه نه دی پاتي شوی.
طریق عام یو شرعی ضرورت دی.
- طریق عام یعنی څه؟
- لویه لاره.
- ولي هغه باچهي سړک تاته لویه لار نه ښکاریږي؟
- نه مطلب دادی چه یوه عامه لاره په یوه قبر راشي نو هغه ورته ورانیدلی شي.
- استغفرالله! لویه څوانه راورسیږي. چا ویلي چه مونږ د شهید قبر ورانوو؟
مونږ فقط د همده زیارت هغلته د لوی سړک په غاړه جوړه وو.
دا کار په شرع کښي ناروا دی؟ داخو د شهید درنښت دی. د شهیدانو برکت خو په هر ځای کښي یو شان وي څه دا ځای او څه هغه.
- ته په شرع کښي فلسفی لټوی او په فکر پسی ګرځې !
- ستا پدی کي نور کار نشته. دا ځمکه هم زما ده او هغه ځمکه هم زما ده- زما بابا مشر ملک دی خدای غرق رحمت کړي هغه به ویل چه د هغه کوز ورسک څخه راپورته او د هغه بر کرنګ نه راښکته دا آسمان هم زمونږ دی. مځکه زما ده او شهید زما دی چه هرچیرته یي ښخوم ستا پکي کار نشته.
- ښه ده ځمکه خو ستا ده، ګورو به چه څوک د نبي د شرعی پوښتنه هم کوی که نه.
دلته ملک صاحب څه لږ غوندی ډیل وکړ. دی چي یو تجربه کاره سړی و د ملا صاحب د اخطار په معنا ورسید، د ورایه یي په ذهن کي غټی غټی سپیني شپیني پګړی، نرۍ نرۍ تبرګي او د اوږو پوری ځني وګرځیدی د طالبانو د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قوت او هیبت د تخیل نه د ننه ولړزید. مګر ملا صاحب ته یې په ښکاره هیڅ ورخطایي ونه ښوده همدومره یې وویل: ((ښه ده ګورو به چې څه کیږي. سبا له به سره بیا خبري وکړو)).
ملک صاحب او ملا صاحب پدی سره جوړ شول چې د شهید ګټه وټه دې د دواړو شریکه وي. ملا صاحب به دا خبره د نبي په شرع برابره وګڼي چه ملک صاحب د لاریو د سړک په سر د شهید جنډه او پنجره لګه کړي، او یوه ښه معتبره نمایندګي تاسیس کړي. د دغې نمایندګۍ ټول کنټرول به د ملک صاحب په «ید با کفایت » کښې وي.
ملا صاحب به د شهید د اصلي زیارت په کوټنۍ کښې واړوي چه ملنګ ورنه لاس تړلی زندان ته بوتلل شو. هرڅوک چې په دغه اصلي زیارت پیښه کوي د هغوي شکراني او نذرانی به د خوړ د سیلاب د ورځو په شمول په ملاصاحب پورې تعلق لري.

(۶)

د خان صاحب د پاره د لاریو په سړک باندی د زیارت نمایندګې د سپینو او سرو ژرنده وه. ده به شخصاً د هغه ځای اداري او تنظیم ته توجه لرله او کله کله به یې د سړک په غاړه کټ واچاوه او په ډېره مزه به یې هرې لارۍ ته کتل د زیارت په جنډه او کوډۍ به هرومرو ودریده او موټروان به یې نوټ او سورلیو به یې میده پیسې د منجاور د (ملک صاحب پخواني) مزدور خواته ور ګوزارولی. په موټروانانو کښې او سورلیو کښې دا خبره منل شوې وه چې د دغه نا آواره سړک او د دغه بیحسابه پیچومو او مخصوصاً د هغه هیبتناک او خونړي کړنګ نه په سلامتۍ تیریدل بی د دغه شهید د برکت نه نا ممکن کار دي.
ملک صاحب په مځکو باندې نوي کلاګانې واچولی، آسونه یې واخیستل، شاړې یې په تقاویو آبادې کړې او دبدبه یې بی حسابه زیاته شوه. د حکومت سره یې هم قدر زیات او روابط یې ټینګ شول او نور نو د چا مجال نه و چه د ده مخې له ورشي.

(۷)

ډېر کلونه پس د سړک مخه وګرځیده. دا سړک نور متروک شو او یو بل نوی سړک جوړ شو چې نه پوهیږم په څه شي کښې د دې زاړه سړک نه ښه وه مګر حقیقت دادی چې اوس لارۍ په هغه بل سړک ځي. ملک صاحب ډېری ورځې غمجن ؤ مګر آخر ورته دوستانو مشوره ورکړه چه د شهید برکت خو لري او نژدی یو رنګ وي، نو ولې ملک صاحب همدغه د زاړه سړک د سر نمایندګي په همدی کم او کیف د نوي سړک په سر نه جوړوي؟ د ملک صاحب دا خبره بیحده خوښه شوه او یوه ورځ یې په خپله نوي سړک ته تشریف یووړ هلته یې د غره په اوچتو کمرونو کښې د سرک په سر د ډېرو هیبتناکو کړنګونو په منځ کښې یوځای خوښ کړ چه د زیارت نمایندګي ورباندی جوړه کړي. لږ ورځې وروسته ملک صاحب ته معلومه شوه چې د نوي نمایندګۍ حاصلات نسبت پخوانۍ ته زیات دی، نوبیا وربادی همدغه سړک چه یوه ورځ یې ورته د دښمن د حملي د خطر په سترګه کتل د لنګې غوا غوندي پری ګرانه شو، زمانه هم عجب کارونه کوي، یوه ورځ ملک صاحب خپلو دهقانانو ته ویل: (( په دغه سړک کې چه هرسټک یوه تیږه ماتوي لګه زما په کوپړۍ چې ګوزار کوي)) د نمایندګۍ حاصل چې منظم شو نو یوه ورځ ملک صاحب ته چا پیشنهاد وکړ چه د هغې امتیاز په اجاره ورکړي. اوس د ملک صاحب خاطر د پخوا نه هم جمه شو او هر کال ډېرې روپۍ د دغې نمایندګۍ د اجارې نه د ده په خزانه کښې زیاتیږي.

(8)

شپه ده او د ملک صاحب په حجره کښې ډېر خلک ناست دی. د چلم د لوګو په ډوزو کښې په یوه پالنګې کټ ملک صاحب پلتۍ وهلی ښکاره کیږي، په بوندۍ سپینه ږیره کې ګوتې وهی او ډېر په فکر کې ډوب معلومیږي د کټ بازو ته یو کوچي تکیه وهلی او ډېر چې همدا اوس یې خپله قصه خلاصه کړی ده.
معلومیږي چې یو نوی سړک جوړ شوی او هغه د دې ځای نه ډېر لرې دي ګړنګونه خو په هغه کښې هم شته مګر نه تری دغه کلۍ ښکاري او نه د زیارت غزونه. ملک صاحب د قصی د خلاصیدو نه وروسته اول خپلو کلیوالو ته وویل: (زما پدی خبرو باور نه راځي او بیا یې د نوو سرکونو د جوړولو «اضرار» بیان کړل او ورپسی یې د «اسراف او تبذیر» په ذم کښې ډېرې مقولې، احادیث او آیتونه را نقل کړی. او د نوي سړک د مصارفو اټکل یې هم کروړونو ته ورساوو، په حاضرینو کښې یو چا وویل: صاحبه اول خو به خدای پاک دا خبره دروغ کړي او که بیا خدای نا خواسته رښتیاوه نو په هماغه سړک به د یو کړنګ په سر د زیارت د پاره یوه کوډۍ جوړه کړو، شهید څه لرې او څه نژدی، قربان یې شم برکت یې هرچا ته رسیږي، او که دا ځل ستا مهرباني وي نو زه به یې په اجاره واخلم. د شهید د قبر پوښتنه نو څوک کوي چه چیرته دی؟ د ملک صاحب تندی ورو ورو روښانه کیدو چې آخر یې یو تبسم هم په شنډو و ښکل شو.
دا تبسم د یوي ډېری زړې خاطرې نه پیدا شو. ملک صاحب کلونه کلونه پخوا خوب لیدلی و چې یو بختور سړی راشي، په سر یې لاس راکاږي او ورته وایې: «بچیه خدای دې په ځمکه کې برکت پیدا کړه».


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ